# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــــاد
بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم
از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com
afgazad@gmail.com

| مسایل ایدولوژیک | Ideological |
| --- | --- |



محمد هارون خپل شعشعي


۲۵ می ۲۰۱۲

## د
## علي محمد مُخلِص
## عرفاني فرهنګ
## د
## محمد هارون خپل شعشعي
## ليکنه او څېړنه
## ۵۰

### ۱۱۲- سُلُوک، سالک، د سلوک شرطونه او د سلوک ارکان :

سلوک، په لغت کې يوځای ته د ننوتلو، د يوې لارې د غوره کولو او پر هغه لار د رهي کېدو، په ماناوو راغلئ دئ[۱] . سالک په لغت کې رهي، روان، لاروی يا پر لارې روان کس ته وايي[۲] .

صوفيانو او عارفانو د سلوک په باب ډول ډول نظريې وړاندې کړې دي . د ځينو په اند، سلوک بشپړتيا او حقيقت ته د رسېدو دپاره د بېلابېلو پړاوو د تېرولو په مانا دئ، چې عبادت، ګوښه توب، رياضت، په شپه کې وېښ والی او د نوس او شهوت لاندې کول يې ځينې شرطونه دي . سالک هغه څوک دئ، چې د خپل پير او لارښود په مشرۍ، د خدای پر لور رهي يي( وي)؛ د نفس د پاکۍ يا د سير او سلوک بېلابېل پړاوونه او مزلونه تېريي . له همدې کبله، سالکانو ته د سلوک يا طريقت څښتنان هم وايي[۳] .

سلوک ډېر ډولونه لري، چې په هغو کې شرعي سلوک، زاهدانه سلوک، عقلي يا اشراقي سلوک، صوفيانه او عارفانه سلوک، زيات مشهور دي . د سلوک دغه ډولونه، په تېره بيا صوفيانه او عارفانه سلوک، ځانته ځانګړي شرطونه، رُکنونه، حالات او مقامونه لري[۴] .

د عرفاني سير او سُلُوک وتلي شيخ - عزيزالدين بن محمد نسفي ( ۶۳۰- ۷۰۰هـ ق ) په خپل نامتو اثر « کشف الحقايق » کې د سُلوک تيوري د شريعت، طريقت او حقيقت د څښتنانو له نظره بيان کړې ده . دی ليکي، چې د شريعت، طريقت او حقيقت د څښتنانو په نظر، سلوک ځانګړې تګ او حرکت دئ . دا تګ او حرکت له ناپوهۍ څخه د پوهې، له ناوړو اخلاقو څخه د نېکو اخلاقو؛ او له خپلې هستۍ څخه د خدای تعالی د هستۍ پر لور يي . د شريعت د پلويانو په عقيده، سالک مُحصل او سلوک د پوهې تحصيل دئ . د طريقت د پلويانو په باور،

سالک مجاهد؛ او سلوک مجاهده ده . د حقیقت د پلویانو په نظر، سالک نفي کوونکۍ - ثابتونکۍ؛ او سلوک نفي- اثبات دۍ . په بله ژبه، سلوک د ځان نفي کول؛ او د حق تعالی اثبات ( لااله الا الله) دۍ[۵] . شېخ نسفي، په خپل بل عرفاني شهکار « انسان الکامل » کي سلوک نه یوازي د خدای پر لور، بلکي د خدای په وجود کي، داسي سیر او سفر ته وایي، چي عارفان یې په خپله عرفاني ژبه « سیر الی الله او سیر في الله » بولي . دده په عقیده، د « سیر الی الله » سفر، د پړاوو او مقامو تر بشپړېدو وروسته پای ته رسیږي؛ خو « سیر في الله » هیڅکله پای اواخیر نه لري[۶] . دی زیاتیي، چي کمال ته د رسېدو دپاره باید انسان لومړی زده کړه وکي؛ بیا کوښښونه او ذکرونه . هغه څوک چي مدرسي او ښوونځی ته نه ځي؛ مګر د عارفانو غونډو او خانقاوو ته ځي، ښایي تر خدایه ورسیږي؛ او د « سیر الی الله » پړاوونه هم ختم کي؛ خوله « سیر في الله » څخه بې برخي دۍ . سالک، په خپل سلوک کي له صغیر یا کوچني عالَم ( د صفتواواخلاقو ګرده ظاهري مرتبې) څخه تېرېږي او لوی عالَم یا ناپایه کایناتو ته رسیږي، چي په هغه پړاو کي د خدای د نایب یا خلیفه په توګه ټاکل کیږي . په دې مرحله کي د ده خبره د خدای خبره؛ او د ده عمل د خدای عمل دۍ . دې درجي یا مرتبې ته تجلی اعظم یا لو(لویه) روڼا وایي؛ ځکه دلته اخلاق او پوهه دواړه څرګندیږي[۷] .

په دې ډول، د سلوک د ټولو پړاوو او مقامو په ظُهُور او بشپړتیا سره د « سیر الی الله » بهیر پای ته رسیږي ؛ او د « سیر في الله » سفر پیل کیږي . شېخ نسفي، د « سیر الی الله » سالک ته سلا ورکیي، چي هیڅکله د خپلو ریاضتو او مجاهدو په بهیر کي خاص مقام یا ځانګړي عرفاني منزل ته د رسېدو هیله او اسره ، په سر کښې نه باسي؛ ځکه هر مقام او هره مرتبه له خپلو صفتو او ځانګړتیاوو سره، په خپله د عارف په زړه کي تجلا مومي . سالک باید په خپل عرفاني سیر او سلوک کي، یوازي دا نیت ولري، چي د سړیتوب یا انسانیت مقام ته ورسیږي؛ او په وجود کي د انسانیت بېلابېلي درجي او مرتبې پیدا سي . د دې مرتبو او درجو په پیدا کېدو سره پاکي، پوهه، معرفت، داسرارو‌کشف او د انوارو ظهور، په خپله څرګندیږي[۸] .

**د سلوک شرطونه :**

شېخ نسفي، د عرفاني سلوک دپاره، د دغو شپږو شرطو یادونه کیي:

« ۱- ترک : د مال و دولت، بدو اخلاقو او شان و شوکت پرېښوول .

۲- سوله : د خدای له ګرده عالَم سره سوله؛ له هر چا سره په خوښی، شفقت او مینه کي ژوند .

۳- ګوښه توب .

۴- صمت یا چپتیا(چوپتیا) .

۵- جوع یا لوږه .

۶- سَهَر یا وینبتوب[۹]. »

**د سلوک ارکان :**

د شېخ نسفي په نظر باید عارفانه سلوک، دغه شپږ بنستونه یا رُکنونه ولري :

« ۱- د هادي وجود یا سته والی . هغه په دې مانا، چي سلوک بې هادي یا لارښوونکي نه ترلاسه کیږي .

۲- له پیر یا لارښود سره مینه .

۳- متابعت یا پیروي : سالک باید په ټولو اعتقادي او عملي چارو کي د خپل لارښود پیروي وکي . په بله ژبه، سالک باید ځان ناروغ او هادي طبیب وګڼي .

۴- د خپلي رايي او غوښتني پرېښوول : بايد هر څه د هادي په لاربنوونه وکي؛ او په دي توگه تر خپلي غوښتني، رايي او سوچو تېر سي .

۵- د اعتراض او انکار پرېښوول : بايد د پير پر هيڅ وينا او عمل اعتراض و نه کي؛ ځکه سالک د عرفاني سير او سلوک په ښو او بدو نه پوهيږي .

۶- ثبات او دوام : د سالک په عرفاني مجاهدو او رياضتو کي بايد هيڅکله پرېکون او ځنډ را نسي ۱۰. »

د عرفاني سير او سلوک په رمز و راز خبر شاعر، علي محمد مخلص، د خپل پښتو ديوان او پارسي اشعارو په بېلابېلو برخو کي د عرفاني سلوک مفهومونه، شرطونه او ارکان، د خپل عرفاني طريقت پړاوونه او مقامونه، د کامل او ناقص پير ځانگړتياوي؛ او د عرفاني سلوک په پراخه لمن کي کارېدونکي اصطلاحات او نظريي په ژوره توگه بيان کړي او سپړلي دي، چي موږ يي د دي ليکني په بېلابېلو برخوکي له ځينو عامو تيوريکو اساساتو او اړخو سره يو ځای تر جلا جلا سرليکو لاندي څېړو .

لمنليکونه

۱ عميد ۱: ۱۳۶۸.

۲ عميد ۱: ۱۳۶۸.

۳ عميد ۱: ۱۳۶۸.

۴ نيرومند محقق ۱۲-۱۳.

۵ نسفی، کشف الحقايق ۱۱۹.

۶ نسفی، انسان الکامل ۱۲.

۷ نسفی، انسان الکامل ۵۴ - ۵۵ ؛ ۸۵ .

۸ نسفی، انسان الکامل ۸۷ .

۹ نسفی، انسان الکامل ۹۵.

۱۰ نسفی، انسان الکامل ۹۷ .

پاته لري